د افغانستان اسلامی جمهوریت
د مخابراتو او معلوماتي ټکنالوژی وزارت

جمهوری اسلامی افغانستان
وزارت مخابرات و تکنالوژی معلوماتی

Islamic Republic of Afghanistan
Ministry of Communication and IT
دمقام د دفتر ریاست
د ویاند دفتر |دفترسخنگوی | Office of the Spokesman

# مطبوعاتي خبرپاڼه

نېټه: د ۱۳۹۷ د سلواغه ۱۶مه

**موضوع: خوندي انټرنټ په ځانګړي توګه د ماشومانو او ښځو لپاره**

د مخابراتو او معلوماتي ټکنالوجی وزارت، د پوهنې وزارت ، د ښځو د چارو وزارت او ټکنیشن شرکت په ګډون د خوندی انټرنټ نړیواله ورځ د یوې غونډې په ترځ کې ولمانځل.

د خوندي انترنت ورځ د لمانځلو موخه د ښځځو او ماشومانو لپاره مناسب چاپیریال رامنځته کول او د انټرنیټ د اغیزمنې کارونې په اړه پوهاوي ده.

په یاده غونډه کې د مخابراتو او معلوماتي ټیکنالوژۍ وزیر ښاغلي شهزاد اریوبی وویل چې د انترنیټي خدمتونو کارولو په منظور زیاتو پوهاوی ته په تیره بیا د ماشومانو او میرمنو لپاره اړتیا لیدل کیږي.

د مخابراتو او معلوماتي ټکنالوجی وزیر د انټرنټ کاروونکو، په تیره بیا د ښځو او ماشومانو په وړاندې د ننګونو او زیانمنې په اړه خبرې وکړې. هغه وویل چې زیانمنې باید پیدا او وپېژندل شي او د له منځه وړلو لپاره یې په ګډه هڅه وکړو.

د مخابراتو وزیر همدا راز وویل چې د مخابراتو او معلوماتي ټکنالوجي وزارت به د هېواد ټولو ښوونځیو ته کمپیوټر او تجهزات چمتو کړي او د دې امکاناتو څخه ګټه اخیستل د پوهاوي لوړولو ته اړتیا لري.

ښاغلی اریوبی زیاته کړه چې د مخابراتو او معلوماتي ټکنالوجی وزارت د افغانستان د انټرنیټ د معلوماتو د امنیت په اړه کار بشپړ کړی دی، د بریښنایي حکومتوالی قانون بشپړ شوی او ډیر ژر به تصویب شي، د سایبري جرایمو جزا قانون تایید شوی او ډیر ژر به د معلوماتو د خوندي ساتنې لپاره نور مقررات او طرزالعملونه تصویب کړي.

همدا راز د مخابراتو او معلوماتي ټیکنالوژۍ وزارت په 1397 کال کې د NIXA پروګرام پیل کړ او د Cybercrime څېړنېز لابراتوار یې جوړ کړ چې اوس مهال کارول کیږي. د ګرندي غبرګون تخنیکي ټیمونه د انټرنېټ په اړه د لازیاتو معلوماتو لپاره 24 ساعته کار کوي.

اوسمهال په ټول هیواد کې 9.7 ملیونه وګړي انټرنیټي خدمتونو ته لاسرسی لري، چې د تیر یو نیم کال په پرتله نږدې دوه میلیونه ډیروالی ښیي.

په دغه کنفرانس کې، د تکنیشن شرکت مشر ښاغلي عمر منصور انصاري، د Cyber Identity Theft ، Sextortion، Cyberstalking، Cyber Bullying، په اړه تشریحی معلومات ورکړل او زیاته یې کړه چې د انټرنېټ په اوسنی نړۍ کې ماشومانو او میرمنو په وړاندې خندونه شتون لري. اړینه ده چې عامه اداري او خصوصي سکتور په ګډه د ستونزو د حل لپاره لارې چارې ولټوي.

همدارنګه د پوهنې وزارت سرپرست او د ښځو د چارو وزارت مرستیال د خوندي انټرنیټ لپاره د پوهاوي لوړولو په برخه کې د دوی د رول په اړه خبرې وکړې، او ژمنه یې وکړه چې د ننګونو د حل لپاره د مخابراتو او معلوماتي ټکنالوجی وزارت سره همکاری وکړي.

د نورو معلوماتو لپاره زموږ ویب سایټ www.mcit.gov.af ته مراجعه وکړئ اویا د ۰۷۴۳۱۲ ۹۳۷۴۷ شمیرې سره اړیکه ونیسئ.